مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شیرمحمدامیني ستانکزی

# د غويي يا د ثور اومه په هېواد کې د سترناورين پيل



د غويي يا د ثور کودتاه او د سردارمحمدخان د حکومت راپرځېدل د دې لامل شو، چې د داودخان د حکومت په چارو کې خلقي او پرچمي ډلو په لوړو پوستونو او نظامي ادارو کې ځانونه ځای په ځای کړي ول او دوی له پخوا د کودتاه ترسره کولو پلان جوړ کړي ؤ، خو سردار محمد داود خان د بې پروايۍ له کبله ونشوای کړای چې د کودتاه چیانو شوم اهداف له مينځه یوسي، ځکه وخت له وخته تیر ؤ.

د کودتاه مخکي خلقي او پرچمي ډلو په ښکاره ډول د سردارمحمد داود خان د حکومت په وړاندي او بدنامولو لپاره هڅي پيل کړي وې، خو سردارمحمد داود خان ووېره وي، چې دوی په نظام کې غښتلي او د واک خاوندان دي.

کله چې میراکبرخیبر په کابل کې د ناڅرګندو ډلو لخوا ترور شو، پرچمیانو د دې د میرني پړه د سردار محمد داود خان په پلويانو اچول اوځینو بیا د میراکبرخیبر ترور د حفیظ الله امین په پلويانو تپل. خو بیا هم د خیبر قاتلين ونه موندل شول او په دې بهانه خلقیانواو پرچمیانو خپل پلان کړي هدف ته ورسيدل .

د خلقي او پرچمي پلويانو د ثور په اومه د کابل ښار په واټونوکې لاریون وکړ، البته دغه لاریون د کودتا پیلامه وه، چې خلقیانولاپخوا د سردار محمد داود خان د حکومت نړولو طرحه جوړه کړې وه او پرچمیانو د لاریون په کټي اخیستني سره نظامي مانور هم پيل کړل.

خلقي او پرچمي پلوو په ارګ وردننه شول او په ارګ کې يې جګړه پيل کړه، خو خلقي او پرچمي ډلو، چې کله په نظام کې مهم ځایونه خپل کړي ؤ، د دوی په ګوتنوي نظامي قواوو ته امر وکړل، چې ارګ ته ورننه شي او د هېواد واکي ترلاسه کړي.

همداغه ؤ، چې په کابل کې لوی ناورين رامنځته شو، د داودخان دحکومت پلويانو چې دهېواد له ولایتونو دمرستي لپاره کابل ته ورشي، ولي د مخابري سیستم له منځه تللي ؤ او ځيني مخابروي کودونه بند شوي ؤ او يا هم د غلط راپور ورکولو، چې ګواکي خیرت دی، دغو نظامي قواوو؛ ونشوای کړای چې پلازميني ته ورداخل شي او بيرته يې په شاه تګ مخه کړه.

د ارګ په مانۍ کې جګړه اوښته روانه وه، چې د راډيو افغانستان نه د خلقیانو او پرچميانو له لوري اعلامیي خپریدې او ویل یې، چې نور د نادري کورنۍ کلم ټول او د هېواد واکي انقلابي شورا ترلاسه کړې.

دکمونستانو یو شمیر مشران چې د کابل په دهمزنګ زندان کې بندیان ول، راخوشي شول او دوی هم د انقلابي شورا د بريا مبارکي هېوادوالو ته د راډيو له لارې آورول .

په ارګ کې څلورویشت ساعته جګړه روانه وه، چې په پای کې د هېواد لومړنی ولسمشر سردار محمد داود خان او له کورنۍ سره شهیدان شول، خلقیانو او پرچمیانو د ثور د انقلابي شورا حکومت رامنځته کړل،چې نورمحمد تره کی د افغانستان د خلک د ديموکراتيک ګوند مشر وټاکل شو.

دا په هېواد کې هغه توره ورځ يادولی شو، چې تردې مهاله زموږ هېواد د دغي کرغېړني کودتاه له امله په اور کې سوزي. اوس هم د هېواد په ډېری ځایونو کې وګړي درديږي، کړيږي او له سترو ناندريو سره مخ دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

نو موږ ټولو هېوادوالو ته په اوسني حالاتو کې لازمه برېښي، چې نور د پردیو او تاریخي دښمنانو په خبرو؛ ونه غولیږو، باید په خپلو کې یوالی غوره کړو، چې زموږ هېواد نور له بدبختیو او ناندریو ووځي او په هېواد کې تلپاتې امنیت او سوله راشي، دې موخې ته رسیدل یوازې ولس ته پکار ده، چې پخپلو کې وروروګلوي غوره کړي او دیو باثبات او ډاډمن افغانستان په لوري اوچت ګامونه واخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ